استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی یکشنبه ۲۳ جولای ۲۰۲۳

# د احمدشاه بابا دیوان

## څلورمه برخه




احمد شاه بابا ویني چه د دې پاکي خاوري مینه د پښتنو په زړه کي خورا ټینګه ده، ولي چه د پښتنو ښکلی او ګلالی ځلمی تل د احمد شاه بابا په مشرتوب د ده تر جنډې لاندي د دې وطن د ساتني، او د برم او جلال د لوړولو دپاره ولاړ وه، احمد شاه بابا د پښتنو ځلمو دغه وطن خواهانه حال داسي بیانوي:

ستا د عشق له وینو ډک سوه ځګرونه
ستـا پـه لاره کـي بـايلي ځـلمی سرونه

احمد شاه بابا ګوري، چه د ده زړه څنګه په خپلو خاورو او خپل وطن پوري تړلی دي، نو هر وخت د وطن په بیلتون کي ځلبلاند، او په هستوګه کي یې خوښ او ښاد دي:

تا تـه راشمه زړګی ځما فـارغ شي
بې له تا مي اندیښني د زړه مارونه

salamwatanam@gmail.com

احمد شاه بابا، که څه هم د پښتونخوا شا و خوا ټوله مملکتونه ونیول، او د پښتنو زاړه مفتوحه ممالک ئې بیرته لاس ته راوسته، مګر هر وخت چه پخپلو مملکتو کي د یوه بریالي شاهنشاه په ډول ګرزیدي، هیڅکله ئې د خپل وطن ښکلی باغونه ندي هیر شوي:

که هر څو مي د دنیا ملکونه ډیر شي

ځما نه هیر نشي دا ستا ښکلي باغونه

هغه وخت چه احمد شاه بابا د ډهلی د شاهنشاهۍ پر تخت کښینوست، د هغه ښکلي او زیبا ښار په شاهی مانیو او باغونو کي هم د ده څخه د خپل وطن د غرو ښایسته او زړه وړونکي څوکي هیري نشوې، او داسي ئې د وطن په مینه کي ږغ وکي:

د ډهلی تخت هیرومه چه را یـاد کړم

ځما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

تر دغه وروسته نو زموږ ښاغلی ننګیالی بریالی پلار د پښتنوالي او پښتو د پرتم او برم په افتخار کښیوزي، د خپل توریالی ملت په توره او پښتنواله فخر کوي او ویاړي، نو وایي که پښتانه او زه د میراني توره وکاږو، او د پښتنو د زاړه او تاریخی عظمت په یاد، بیا شاوخوا وګورو، نو به د شیر شاه سوری، او سلطان حمید لودین روښي دورې بیرته نوي شي. په دغه ډول د احمد شاه بابا په همت او ننګیالي توب او پښتنواله دغه خبره د ده رشتیا شوه، او د وطن تیر عظمت ئې په خورا مینه بیرته وګاته.

د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړي

چـه پـه تـورو پښتانـه کـا ګـزارونه

د فـریـد او د حـمیـد دور بـه بیا شي

چـه زه وکانـدم پـر هـر لـوري تاختونه

د دې بدلی په پاي کي وطن ته داسي خطاب، او د میني داستان ختموي:

که تـمـامـه دنیا یـو خـوا تـه بل خـوا یې!

زما خو خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه

"احمد شاه" به دغـه ستا قدر هیر نکا

که ونیسي د تمام جهـان ملکونه

دا وه زموږ د بابا، د وطن د میني، او پښتنوالي د حب احساسات، چه لنډ مو ولیکله.

salamwatanam@gmail.com

د احمد شاه بابا د وطنیت فلسفه د وطن مینه په انسانانو کي طبیعی ده، د هر چا خپل کور او کلی خوښ وي، پښتنو په یوه متل کي د انسان دغه اجتماعی جذبه، ښه تصویر کړې ده چه وایي"هر چا ته خپل وطن کشمیر دی" د وطنیت عنعنات او جذبات په انسانو کي خورا زاړه دي، د تمدن په تاریخ کي د وطن تعریف داسي کیږي: تیرو خلقو وطن هغه مځکه بلله چه پلار او نیکه ئې پکښي اوسیده، او هدیره ئې هغه وه، د کورنۍ روایاتو یوه ټوټه مځکه دوي ته مقدسه کړې وه چه وطن ئې بلله. ١٤ په زاړه یونان کي وطن یوه مقدسه کلمه وه، چه په دیني شعائرو ئې ګڼه بلله.

---

١٤ د فوستل ډوکولانژ فرانسوی (١٨٨٩-١٨٣٥) د تمدن تاریخ.

د یونان مشهور فیلسوف افلاطون، وطن خپل روزونکی باله او خپل ژوند ئې په وطن پوري مربوط ګاڼه، سقراط د ډیري وطن خواهۍ څخه ځان د وطن د قوانینو په احترام کي قرباني کی. ١٥

---

١٥اصول تمدن.

په اجتماعی پوهانو او هغو عالمانو کي چه د انسانانو پر ژوند څیړني کوي ډیرو د وطنیت پر فلسفه باندي بحثونه لیکلي دي، چه ځنو دولت او حکومت د وطنیت اساس ګڼلي او د دولت مرکز، د وطن مرکز بولي. ١٦ مګر دغه د وطنیت سیاسی نظریه ده، نوي اجتماعی علماء چه د وطنیت فلسفه د اجتماعي خوا پلټی وایی چه:

---

١٦ وګوري د ابن خلدون مقدمه ص ٩٢ طبع د مصر.

"وطن د پلرونو او نیکونو د ژوندون ښکاره کونکی، او د اجتماعی اساساتو ټینګونکی او اصل دي." ١٧

---

١٧د ډوکتور کوستاو لوبون کلمات ص ٥٠ مصر طبع.

یو بل اجتماعی عالم وایي:

" انسان لمړی د خپلی مور سره مینه لري، دغه مینه وروسته د پلار او نورو خپلوانو سره نښلي، له خپلوانو څخه قبیلي او ښت ته ځي، او لکه یوه دائره په افقی ډول خپریږي، په وینو او روحی عواطفو ګډیږي، څو چه و حب وطن ته ورسیږي، نو د مور او پلار مینه د وطنیت د میني اساس دئ، تر

دې اندازې چه د وطن کلمه په ځنو اروپائی ژبو کي د پلار له کلمې څخه جوره شوې ده. ۱۸ مثلاً د لاتینی پاټریا patria یا د جرمنی vaterland فاټرلینډ یا د.   ۱۸ په پښتو وطن (مینه) بولی، چه ریښه ئې هم (مینه) یعنی عشق او محبت دی.
انګلیسی ۱۹ .fatherland په دې ډول نو په اوسني علم الاجتماع کي "وطن هغه خاوره بولي چه نسبتاً طبیعی حدود لری، او خلق پکښي هستیږي چه دوی خپل دودونه، مذهب، ژبه، حکومت او یو شانته اجتماعی ژوندون لري." ۲۰

۱۹. علم الاجتماع د نقولاحداد ص ۲۵۷-۳۳۸.

۲۰ . د ارزانی اصول تمدن ص ٤٦.

دا خو لنډ هغه نظريات او آراء وه، چه د وطنیت پر فلسفه په اجتماعي علومو کي څرګند شوي دي، اوس به نو راسو چه ادباء او شاعرانو پر وطنیت باندي څنګه افکار ښکاره کړی او څو ډلي شوی دي؟ ځني مفکرين او ادباء د وطنیت فلسفه پر اجتماعی ژوندون بناء کوی یعني د وطن سره مینه لری، له دغه پلوه چه هلته د ده خواږه خپلوان او زړه ته تیر مینان سته، نو که په وطن کي دغه اجتماعی رابطه وشليږی، يعنی د چا خپلوان او ياران هلته نه وي، هغه وطن د مینې او مسرت ځای نه ، بلکه د ناورین او ویر سبب ګرزی، د عربو يو شاعر دغه فلسفه په يوه بيت کي داسی ښيي:
و من مذهبی حب الديار لا هلها و للناس فی ما يعشقون مذاهب
"یعني هر څوک په مینه کي بیلي لاری لري، زه خو وطن د وطن د خلقو دپاره خوښوم".
د عربو يو بل مشهور شاعر لبید بن ربیعه هم هغه وخت چه د زړو يارانو پر کلی او وطن راځي، نو د مینې او مسرت پر ځای ئې له لیدلو څخه وحشت او دهشت مومي، ولي چه د ده خپلوان او مینان هلته نسته، نو دئ هم شرافت د مکان له مکینه بولي او وائي:
عفت الديار محلها فمقامها بمنی تأبد غولها فرجامها
یعنی د یارانو د تګ په سبب په "منی" کي اوس "غول" او "رجام" چه د دوی د هستوګي ځایونه وه، وحشت زیاتوي." ۲۱ په دغه ډول د عربو دغه ادباء، د وطنیت د مینې اساس پر اجتماعی مینه ږدی،

۲۱.د فرید وجدی دائرة المعارف ج ۸ ص ۲۸۷.

سعدی د پارسو مشهور ادیب هم په وطن کي د حسرت ژوندون نه خوښوي، لکه چه وائي:
سعديا حب وطن گر چه حديثی است صحيح

نتوان مُرد به حسرت که من آنجا زادم

په پښتو شاعرانو کي هم ځني ادباء د وطنيت دغه فلسفه مني، يعني خپل وطن د خپلوانو او يارانو دپاره پر ګران دی مثلاً:

## وطن د يار پـه سترګو ښه دی

**چه جانان نه وي، څه وطن څه بې وطنه!**

عبدالرحيم هوتک وائی:

شرافت د مکان ټوله پـه مکين دی

بې مکينه څه په کار دي تش د يار؟

د پښتنو فيلسوف شاعر د پښتو پلار خوشحال خان خټک هم د اجتماعی مفکرينو او پوهانو په ډول وطن ته ګوري، او پر اجتماعی فکر خپله فلسفه داسي ټينګوی:

څه بلا د خدای ده د وطن جلا کيدل

ورونه عزيزان خويښان وبله بيليدل

په دې ډول زموږ د مشرق اديبانو او مفکرينو د وطن د ميني فلسفه له اجتماعي يا سياسي پلوه ښوولې ده، البته دغه علل ټوله هم د وطن د ميني په احساس، او د خپلې خاورې په محبت او عشق کي برخه لري، مګر د احمد شاه بابا فلسفه له دغو افکارو څخه بيله ده، ده که څه هم خپل وطن، د پلار او نيکه هديره، او خپله خاوره په تقاضا د مليت د اشتراک او خپلوۍ ګرانه ګڼله، مګر د ده د وطنيت فلسفه تر کليه د "حب الديار لا هلها" ډيره لوړه ده، يعني يوازي پر اجتماعي ژوندون او اشتراک د منافعو نه بنا کيږي، بلکه دا ويلای سم، چه احمد شاه بابا خپل وطن په هغه علمي تعريف چه دمخه مو د وطن دپاره وکړ، ټوله پخپلو طبيعی حدودو خوښ درلود، اما دا مينه او عشق بالذات د دغو خاورو سره وو، يعني پر عللو او اسبابو مبني نه وو، بلکه يو رشتنی مجرد او لوړ عشق وو، چه ده د خپل وطن سره درلود، ځکه نو دئ ځانته يوه بيله او مجرده د وطنيت فلسفه لري، او هم دغه سبب وو چه احمد شاه بابا د شاهنشاهۍ تر ګټلو او د شاو خوا ډيرو مځکو تر نيولو وروسته (لکه نور پښتانه شاهنشاهان) وطن او خپل مرکز هير نه کي، او افغانستان ئې پخپلو طبيعی حدود کي وساته. په شا و خوا ودانو ملکو او مځکو کي که څه هم احمد شاه بابا، د شاهنشاهۍ لاس درلود، مګر بيا هم دی د هغو ځايونو عيشو او د ډهلی د ماڼيو عشرتو د خپل غره او خپلي خاوري له ياده نه ويوست، او خپل مرکز ئې تر پايه نه پريښو، څو په دغه خاوره کي مړ او دلې ښخ شو.

دا خو د احمد شاه بابا د وطنيت يوه مجرده او خورا پخه فلسفه ده، چه وطن (من حيث هوهو) پر ګران وو، يوازي ئې د يارانو او خپلوانو دپاره وطن نه يادېدي، او د وطنيت فلسفه ئې يوازي د اجتماعي او سياسي پلوه نه وه، بلکه خپله مينه له دې جهته پر ګرانه وه، چه د ده مينه وه و بس.

احمد شاه بابا دغه د وطنيت خپله ټينګه او لوړه فلسفه چه زما په خيال د وطن د ميني هغه خورا لوړه پايه ده، په يوه بيت کي داسي ښکاره کوي:

کـه تمامـه دنـيا يـو خـوا، ته بـل خـوا يې!

زما خو خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه

وګورى احمد شاه بابا وطن ته خطاب کوي، چه که ټوله دنيا (يعنى ټول هغه اجتماعي او سياسي او نور عوامل چه د وطنيت فلسفه په علم الاجتماع کي پر ولاړه ده) سره يو ځاي شي او پر يوه خوا وي، او فقط د وطن تش او خالي ډګرونه پر بله خوا وى، دئ به وطن پر غوره کړي، او د دنيا شاهى او خوښى او عيش و عشرت او د خپلوانو خپلوي، او د يارانو آشنائي به ټوله د ده په لار کي پرېږدى:

"احمد شاه" به دغه ستا قدر هير نکا

کـه ونـيسي د تـمـام جهـان مـلـکونه

د احمد شاه بابا دغه د حب وطن، او د ميني لوړه دعوه تشه د خولې خبره نه ده، بلکه دغه عملاً هم ښکاره او ثابته شوې ده.

ځکه چه ده د هندوستان د څو سوو کالو د شاهنشاهى مرکز ډهلى ونيولى، تر خيوا او بخارا پوري ئې فتوحات وکړه، خراسان ئې لاس ته راوست، دغه ځايونه د پښتونخوا تر وچو غرو او دښتو خورا ښه وه، هلته ده ته شاهانه سامان موجود وو، مګر ده وطن هير نه کي، او د خپلو خاورو سپيره ډګرونه ئې د ډهلى پر تخت او مانيو خوښ وه!

نو لکه د ده د وطنيت فلسفه چه پخه او محققانه وه، هغسي يې عملاً هم د حب وطن مراتب ډير لوړ وه.

**احمد شاه بابا او ملى وحدت**

نوربيا

salamwatanam@gmail.com